Skolverket

Pashto

# په Sfi (د خارجیانو لپاره د سویډنی ژبې زده کړې) کې د غښانو لپاره د ښاروالی د کورس پلان

## د زده کړو موخه

له ښاروالی له لورې د مهاجرینو غښانو د سویډنی ژبې د زده کړې پروګرام، په شرایطو برابرې داسې زده کړې دي چې یو غښت کس ته چې له خارج څخه راغلی وي د سویډنی ژبې بنسټیزې زده کړې ورښائي. ددې زده کړې هغه څوک کولی شي چې مورنی ژبه یې سویډني نه وي تر څو وکولی شي چې په عملي توګه بله ژبه زده کړي. دا زده کړې به شخص دې ته چمتو کړي چې خپل ورځني ژوند، ټولنه او کاري ژوند کې خبرې وکړي او فعاله ونډه پکې واخلي او ورسره ورسره خپلې زده کړې پر مخ بوځي. زده کوونکي ته به ددې امکانات هم ورکول کیږي چې خپلې هغه ستراتیژي عمل وسیع کړي له کومې لارې چې دې کولی شي خپله ژبه پیاوړې کړي او په ضمن کې وکولی شي خپله شخصي اړیکه حمایه کړي. ددې زده کړو یوه موخه دا هم ده چې غښانو ماجرینو ته چې له لوستلو او لیکلو مهارتونو څخه بې برخې وي، داسي یو فرصت برابر کړي چې ورسره وسره دا نوموړي مهارتونه هم خپل کړي. هغه زده کوونکی چې له درس څخه بی برخې پاتي شوی وي او یا د هغو د زبې الفبا د لاتیني الفبا سره توپیر لري نو د زده کړو- او د لومړنیو زده کړو په چوکاټ کې لومړی دوې باید لیکل زده کړي.

دا نوموړې زده کړې باید د هغه کسانو لپاره وي چې تجارب، د ژوند حالتونه، زده کړې او د زده کړو اهداف یې بیل وي. دا نوموړې زده کې باید له زده کوونکي سره یو ځای پلان او طرحه شي او د زده کوونکي علاقه مندی، تجربات، هر اړخیزه زده کړو او اوږد مهاله اهداف په نظر کې ونیول شي.

دا نوموړې زده کړې باید د وګړي شخصي ضرورتونو، د ښه عوایدو او وظیفو داسي نورو فعالیتونو لکه کاري ژوند، په ټولنه کې اموخت، اعتبار سنجی، عملی یا نورو زده کړو په موخه تر سره شي. نو ځکه دا زده کړې باید له وقت، ځاې، محتوا او روش له نظره انعطاف پذیره وسي.

### اهداف او د زده کړو ماهیت

له ښاروالی له لورې د مهاجرینو غښانو د سویډنی زبې د زده کړې پروګرام له لارې، زده کوونکو ته دا شرایط ور په برخه کیږي.

- هغو ته د سویډني ژبې د لیکلو او لوستلو بشپړتیا ورکول،
- هغو ته د سویډنی ژبې لیکل، اوریدل او خبرې کولو بشپړتیا ورکول
- هغو ته د سویډنی د پوهیدو او لیکلو بشړتیا ورکول
- هغو ته ددې بشپړتیا ورکول چې ژبه د مختلفو اهدافو، لاسته راوړنو او حالاتو سره برابره کړي
- یو ښه تلفظ
- د دې پوهه چې ژبه څرنګه زده کیږي
- د زده کړې ستراتیژي، لوستل او د زده کړې دوامداره توسیع،
- د دې بشپړتیا چې خپل ډیجیټالي تخنیک او مربوطه وسایل په زده کړه او ارتباط کې څرنګه په کار اچول کیږي
- ددې بشړتیا چې له مختلفو منابعو معلومات څرنګه تر لاسه شي.

د ښاروالۍ له لورې د غټانو مهاجرینو د سویډنۍ ژبې د زده کړې پروګرام تشریح داسې کیږي چې په دې پروګرام کې به زده کوونکو د ژبې او اړیکو مهارت پیاوړی شي. دا پدې معنی چې زده کوونکی به د خپلې اړتیا پر اساس کولی شي له خبرو یا لیکلو له لارې خپله اړیکه ټینګه کړي. د ارتباطي ژبې بشپړتیاوې مختلف بڼه والی لري چې د یوبل تعامل او پوره کولو کې مرسته سره کوي. نو ځکه د ارتباطي ژبې بشپړتیا کولی شي چې د ژبې سیستم او هم د زده کړې نحوه کې وکارول شي او په دې کې هم چې نوموړی سیستم څرنګه استعمالیږي.

دا زده کړې باید زده کوونکي ته داسې فرصتونه مساعد کړي، ترڅو د زده کوونکي مختلف زده کړې او مهارتونو ته توسعه ورکړي، او له داسې شیوو څخه کار واخلي چې تر څو وکولی شي نوموړې ژبې د مربوطه وضعیت په ارتباط انتخاب کړي. د ژبني زده کړو سیستم له تورو، جملو، تلفظ او ګرامري ډانچې څخه عبارت دی. د ژبې د استعمال د زده کړو موخه داده چې کس څرنګه کولی شي یو متن و لیکي او په هغه متن کې مناسبه ژبه استعمال کړي تر څو دغه لغات موضوع سره تطابق ولري او موصول کوونکی پرې پوه شي او هدف ترېنه واخلي.

په نوموړي درسونو کې زده کوونکی باید له مختلفو متنونو سره سره وشي کولی چې په هغې کې توري، انځورونه او غږونه له ډیجټالي ابرازو سره او له هغې پرته تعامل ورکړي. دا نوموړې زده کړې باید له زده کوونکي سره د هغې د زده کړو په نحوه او پوهیدو کې مرسته وکړي. او په ضمن کې زده کوونکي ته باید ددې فرصت هم مساعد شي ترڅو وکړی شي چې خپلې فرهنګي تجربو وړتوب او د هغې مقایسه له ورته برابرو پدیدو سره وکړي لکه ورځنی اجتماعي ژوند، تحصیل او کار په سویډن کې او خپلې فرهنګي بڼه والي ته وده ورکړي.

دا نوموړې زده کړې باید له زده کوونکي سره د ډیجیټالي ابرازو، مربوطه وسایلو، معلوماتی رسنیو، اړیکو او زده کړو کې مرسته وکړي.

### د زده کړو جوړښت

له ښاروالۍ له لورې د غټانو مهاجرینو د سویډنۍ ژبې د زده کړې پروګرام له دریو تحصیلي لارو څخه جوړ دی چې 1،2 او 3 دی او دا څلور دورې لري چې A,B,C اوD دي. تحصیلي لار 1 له A,B,C او D څخه جوړه ده، دویمه تحصیلی لار له B,C,D څخه جوړه ده، او دا رنګه دریمه تحصیلی لار له C,D څخه جوړه ده. د زده کړو دا بیلابیل مسیرونه د شخص شالید، شرایط او اهدافو ته په کتو سره طرحه شوي. د زده کړو دغه لار دا مشخصه کوي کومه معلوماتي دوره او د پرمختګ طرحه مناسبه ده. یو زده کوونکی خپلې زده کړې د زده کړو په دغه لار کې خپلو بهترینو فردی شرایطو ته په لیدو سره پیلوي. د زده کړو شرط د یوې دورې لپاره هماغه ډول دې پرته له دې چې تحصیلی مسیر ته پاملرنه وشي.

د 1 تحصیلي مسیر پروګرام د هغه وګړو لپاره دی چې تحصیلي تاریخچه یې ډیره کمه وي او 3 تحصیلي مسیر پروګرام د هغه کسانو لپاره دی چې له زده کړو سره عادت وي.

دا چې د کوم زده کوونکي لپاره به کوم تحصیلي مسیر مناسب وي، ددې قضاوت به هغه وخت کیږي چې زده کوونکی کومه یو تحصیلي دوره پیل کړي، نو وروسته له هغې به د نومړي علم کچې، ضرورتونو او داسې نورو امکاناتو ته په لیدو هغه مناسب ځای ته معرفي کیږي.

دا درې تحصیلي مسیرونه په پیل کې د زده کوونکي تحصیلي عاداتو، تحصیلي سوابقو او د سویډني ژبې علم قضاوت کوي.

نوموړی زده کوونکي کولی شي چې وروسته له هرې دورې څخه د ښاروالۍ له لورې د غټانو مهاجرینو د سویډنی ژبې د زده کړې پروګرام بشپړ کړي. نو څکه باید هر یو زده کوونکي ته دا فرصت مساعد شي چې د هغه مناسباتو سره چې له زده کوونکي غوښتل کیږي تر D دورې پورې زده کړې وکړي.

## د لوستلو او لیکلو لومړني مهارتونه

د لوستلو او لیکلو لومړنی زده کړو د مهارتونو دا پروګرام د هغه کسانو لپاره دی چې مخکې یې زده کړې نه وي کړي او یا د هغه کسانو لپاره چې کمې زده کړې یې کړي و چې عملاً یې زده کړه نه وي کړې. د غټانو مهاجرینو د سویډنی ژبې د زده کړې پروګرام له لارې اصلاً باید زده کونکي ته په 1 تحصیلي مسیر کې داسې فرصت مساعد شي چې تر څو بنیادي لیکل او لوستل زده کړي، چې دا عمل د هغو د زده کړو ژورتیا او زده کړې باعث کیږي. په صحیح معنا سره باسواده کیدل اوږد مهاله وخت نیسي. که چیرې زده کووني په لاتینی الفباء باندې تسلط ونلري، نو ممکنه ده چې د تحصیلي مسیر په 2 او 3 دوره کې هغه زده کوونکو ته چې باسواده دي، د مهارت اولیه زده کړې چې لیکل او لوستل دي، ورزده کړل شي. په داسې حال کې به د زده کړې پروسه متفاوته ښکاري.
هغه زده کړې چې له بنیادي لیکل او لوستلو زده کړو په اړه وي له A او D دورې سره هیڅ ډول تړاو نلري، خو یو بیله برخه تشکیلوي چې له دې دورې سره ترکیب اخلي. دا یوه داسې پروسه ده چې ټول هغه وخته چې زده کوونکي د ښاروالۍ له لورې د غټانو مهاجرینو د سویډنی ژبې د زده کړې په پروګرام کې دخیل وي، دا به روانه وي، تر څو دا ټول مهارتونه اتومات حد پورې بشپړ شي.

د لیکلو او لوستلو لپاره د بنیادي زده کړو په پروګرام کې به د زده کوونکي په مورنۍ ژبه یا داسې ژبه کې زده کړې تر سره کیږي کومه ژبه چې زده کوونکي ته یاده وي.

د لیکلو او لوستلو بنیادي زده کړو پروګرام کې به زده کوونکي ته دا امکانات ورکول کیږي:

- ددې ورزده کول چې څرنګه کولی شي چې د لیکلو له لارې خپل مقصد لوستونکي ته وړاندې کړي او دا چې ژبه څرنګه یو تشکیل لري،
- په مختلفو حالاتو کې د ژبې د استعمال پیاوړتیاوې زده کول
- د لیکلو پر مهال تر ټولو عادي قوانین مراعتول
- خپلو یادولو، درک کولو او خپل بیان کې له لیکلو او لوستلو څخه ګټه واخیستل
- د ژبې د زده کولو لارښود څخه خبریدل
- یو څو ساده ستراتیژیاني د لوستلو او لیکلو د مختلفو اهدافو لپاره ایجاد کړئ او په ضمن کې
- له ډیجیټالي تخنیک او هغه مربوطه مرستندویه موادو څخه ګټه واخلئ چې په لوستلو او لیکلو کې پکاریږي.

## قضاوت

د قضاوت لپاره د پیل ټکی باید د زده کوونکي د سویډني ژبې د استعمال بشپړتیا په مختلفو ورځني امورو، اهدافو، ټولنیز او وظیفوي او مطالعاتي کې د هغې ادراک وي. دې قضاوت کې باید د زده کوونکي زده کړه په داسې فکر قضاوت شي چې ایا دا په دې زده کړو باندې په امتحان کې کومې کامیابیدونکي نمرې اخیستی شي. د زده کړو معیار د پینځو زده کیدونکو نقاطو لپاره بشپړ شوی چې عبارت دی له: اوریدو فهم، د لوستلو فهم، تقریري تعامل، تقریري تولید او د لیکلو مهارت. د زده کړو دا حوزې باید له یو بل څخه مستقل قضاوت نشي، بلکه استاد باید په بشپړه توګه د زده کوونکي لساني توانائي ارزیابي کړي، او دې ته نظر وکړي چې زده کوونکی واقعاً د ژبې له نظره په کوم ډګر کې پیاوړی دی. د ژبې روعتیا باید د ژبې د محتوا او کرکیچ پورې اړه ولري.
د 20 مادې 35 فصل د ښوونځیو د قانون (2010:800) مطابق د هر بشپړ شوي کورس نمرات باید تعیین شي. د لیکلو او لوستلو بنیادي زده کړو د پروګرام په دې تحصیلي برخه کې نمرات نه تعیینیږي.

## د زده کړې غوښتنې

### کورس A

د بریا نمراتو لپاره د زده کړې غوښتنې

**د اوریدو فهم**

له مرستو سره زده کوونکی کولی شي چې په ورځني حالاتو کې په ساده و واضح توګه خبرې وکړي. نوموړی زده کوونکی کولی شي چې ساده او عادی عبارتونه چې په ورځني حالاتو کې چې بیا بیا تکرایږي، پوه شي. زده کوونکی کولی شي چې ساده او واضح معلوماتو باندې پوه شي، او ورسره ورسره تقریري دستورالعمل هم درک کړي.

**د لوستلو فهم**

زده کوونکی کولی شي چې په ورځني ژوند کې په ساده او واضح معلومات ولولي او پوه شي پرې. دا نوموړی زده کوونکی کولی شي چې موجود معلومات د کلماتو، رایجو سمبولونواو عبارتونو، اقتباسی متنونو او د یو موضوع په اړه ډېر ساده متن باندې پوهیدی شي.

**تقریری تعامل**

له مرستو سره زده کوونکی کولی شي چې په ورځني حالاتو کې په ساده او واضح توګه اړیکې ټینګې کړي. زده کوونکی په خپله خبرو کې له ساده کلماتو، احوال اخیستو، ادب او د مخه ښه عبارتونو څخه کار اخلي، او د عیني ضروریاتو په اساس ساده سوالونه کوي او جوابوي.

**تقریري تولید**

له مرستو سره زده کوونکی کولی شي چې په ورځني حالاتو کې په ساده او واضح توګه اړیکې ټینګې کړي. نوموړی زده کوونکی کولی شي چې ساده او عادي عبارتونه په ورځني حالاتو په خپلو شخصي اړیکو او تجاربو کې استعمال کړي.

**د لیکلو مهارت**

زده کوونکي خپل شخصي معلومات په ساده کلماتو او سیمبولو نو کې د خپل ورځني ژوند په تړاو لیکي. زده کوونکی کولی شي چې مهم معلومات د خپل مشخصو ضروریاتو پر اساس په یو مرکزي عملي طریقه ولیکي.

دانش آموز اطلاعات مهم را بر اساس نیازهای مشخص به روشی عمدتاً کاربردی می نویسد.

### کورس B

د بریا نمراتو لپاره د زده کړي غوښتنې

**د اوریدو فهم**

زده کوونکی کولی شي چې خپل روزمره ژوند کې په ساده او واضحه جملاتو پوه شي. نوموړی زده کوونکی کولی په روزه مره ژوند کې بیا بیا تکراریدونکي خبرې، غوښتې، معلومات او دوې سره تړاو لرونکي خبرونه چې دوې وسره اشنا وي پوهیدی شي. زده کوونکی کولی شي چې په ساده او واضحه پیام او دستورالعمل باندې پوه شي.

**د لوستلو فهم**

زده کوونکی کولی شي چې په ورځني ژوند کې ساده او واضح معلومات ولولي او پرې پوه شي. دا نوموړی زده کوونکی کولی شي چې د له اشنا موضو په اړه په ویل شوي او یا لیکل شوي متنونو باندې

پوه شي، او په ضمن کې په پخو معلوماتو او ورسره ورسره لنډو، واضحه ساده پیام او دستورالعمل باندې پوه شي.

**تقریری تعامل**
له مرستو سره زده کوونکی کولی شي چې په ورځني حالاتو کې په ساده او واضح توګه اړیکې ټینګې کړي. زده کوونکی کولی شي چې په ساده خبرو او اشنا موضوعاتو کې ونډه واخلي. زده کوونکی به کولی شي چې خپلې خبرې وکړي، خپل نظریات بیان کړي او خپلې غوښتنې را څرګندې کړي او د هغې په مقابل کې خپل عکس العمل وښائي او په دا ډول به سوال او جواب کوي چې د مکالمې حدود محفوظه وساتي.

**تقریري تولید**
له مرستو سره زده کوونکی کولی شي چې په ورځني حالاتو کې په ساده او واضح توګه اړیکې ټینګې کړي. نوموړی زده کوونکی به کولی شي خپل شخصي تجارب د اشنا شخص ، ځای او واقعې په اړه په ساده شکل کې بیان کړي. نوموړی زده کوونکی به کولی شي چې د یو پوه او منسجم شخص په شکل کې ځان راښکاره کړي.

**د لیکلو مهارت**
زده کوونکی به کولی شي چې د روزمره ژوند د عادي اړیکو لپاره ساده متن هم ولیکلی شي. نوموړی زده کوونکی به کولی شي چې د فهم وړ لنډ پیغام، روغبړ او د ځان د تجاربو په اړه ساده متن ولیکلی شي. نوموړې زده کوونکی به کولی شي چې په خپل متن کې د کار وړ قرائین استعمال کړي.

## کورس C

د بریا نمراتو لپاره د زده کړې غوښتنې

**د اوریدو فهم**
زده کوونکی کولی شي چې خپل روزمره ژوند- ټولنې، زده کړو او وظیفه کې په ساده او واضحه جملاتو پوه شي. نوموړی زده کوونکی کولی شي په روزه مره ژوند کې بیا بیا تکراریدونکې خبرې، توضیحات، غونډې، معلومات او دوې سره تړاو لرونکې لنډ خبرونه چې دوې وسره اشنا وي، وپوهیږي. زده کوونکی به کولی شي چې په ساده او واضحه غږیز پیام او دستورالعمل باندې پوه شي.

**د لوستلو فهم**
زده کوونکی کولی شي چې خپل روزمره ژوند- ټولنه، زده کړو او وظیفه کې په ساده او واضحه جملاتو پوه شي. دا نوموړی زده کوونکی کولی شي چې واړه روایتي او توصیفي متنونه د اشنا موضوعاتو، د زده کړې ساده متونو، جدولونو او ګرافونو او د اطلاعاتو په اړه سا ده استدلاونه کولی شي چې ولولي او پرې پوه شي. دا نوموړي زده کوونکي لنډ او واضح مقررارت او دستورالعملونه لوستلی او پرې پوهیدی شي.
**تقریری تعامل**
زده کوونکی به کولی شي چې د روزمره ژوند په عادی حالاتو کې، ټولنیزو اړیکو، زده کړو او کاري ژوند کې په ساده ژبه له خلکو سره اړیکه ونیولی شي. زده کوونکی به کولی شي چې په اشنا موضوعاتو کې بحث وکړي. زده کوونکی په مباحثه کې داسې غوښتنونکې نظریات، مفکورات او معلومات په داسې طریقه وړاندې کوي چې نوموړې مباحثه تر یوه حده مخ په وړاندې بوځي.

**تقریري تولید**
زده کوونکی به کولی شي چې د روزمره ژوند په عادی حالاتو کې، ټولنیزو اړیکو، زده کړو او کاري ژوند کې په ساده ژبه له خلکو سره اړیکه ونیولی شي. زده کوونکی به کولی شي چې د اشنا موضوعاتو په اړه خپل تجربات او شخصي نظریات توصیف او په ساده ژبه بیان کړي او په ضمن کې د هغه موضوع په اړه ساده توصیه او دستورالعمل ورکړي. دا نوموړی زده کوونکی به کولی شي تر یو حده ځان د فهم قابل او منسجم وښائي او په ژبه کې وښائي چې له انواع او اقسامو څخه کار اخلي.

**د لیکلو مهارت**
زده کوونکی به کولی شي چې د روزمره ژوند، ټولني، زده کړې او کاري ژوند په اړه ساده متن ولیکي چې په یوه اندازه له هدف سره سازګار او معناداره وي. نوموړی زده کوونکی به کولی شي چې روایتي متنونه او توصیفي منسجم متنونه چې د خپلو تجرباتو، مفکورات، نظریاتو او په ضمن کې زده کوونکي متونونه د خپلو اشنا موضوعاتو په اړه ولیکي. زده کوونکی به قصداً د متن جوړښت څه په دې ډول کوي چې به هغې کې به د بیلابیلو او مخصوصو جملاتو ساختار روښانه معلومیږي.

## کورس D

د بریا نمراتو لپاره د زده کړې غوښتنې

**د اوریدو فهم**
زده کوونکی کولی شي چې خپل روزمره ژوند- ټولني، زده کړو او کاري ژوند کې په واضحه توګه رسمي او غیر رسمي جملاتوباندې پوه شي. نوموړی زده کوونکی به کولی شي چې قصې، توضحیات، خبرو، مباحثو، معلوماتو او خبرونو باندې چې موضوع یې دې ته اشنا وي، پوهیږي. دا نوموړي زده کوونکي په توضیح او واضح توګه په پیغام او دستورالعملونه باندې پوهیږي.

**د لوستلو فهم**
زده کوونکی کولی شي چې خپل روزمره ژوند- ټولني، زده کړو او کاري ژوند کې په واضحه توګه رسمي او غیر رسمي جملاتو پوه شي. نوموړی زده کوونکی به کولی شي چې قصې، توضحیات، خبرو، مباحثو، معلوماتو او خبرونو باندې چې موضوع یې دې ته اشنا وي، پوهیږي. دا نوموړي زده کوونکي په توضیح او واضح توګه په پیغام او دستورالعملونه باندې پوهیږي.

**تقریری تعامل**
زده کوونکی به کولی شي چې د روزمره ژوند په عادی حالاتو کې له خپل مقابل شخص سره په غیررسمی او ډیر په رسمي توګه په ټولنیزو اړیکو، زده کړو او کاري ژوند کې اړیکه ونیستی. زده کوونکی به کولی شي چې په اشنا موضوعاتو کې بحث او خبرې وکړي او په ضمن کې نظریاتو به اړه ساده استدلال بیانوي او جواب ورکوي. زده کوونکی کولی شي چې تر یو حده خبرې او بحثونه وړاندې بوځي.

**تقریري تولید**
زده کوونکی به کولی شي چې د روزمره ژوند په عادی حالاتو کې له خپل مقابل شخص سره په غیررسمی او ډیر په رسمي توګه په ټولنیزو اړیکو، زده کړو او کاري ژوند کې اړیکه ونیسي. زده کوونکی کولی شي چې د واقعاتو، تجرباتو، برداشتونو او نظریاتو په اړه په ساده ډول شرحه ورکړي او په ضمن کې مشوره او رهنمائي هم ورکوي. نوموړی زده کوونکی به کولی شي تر یوه حده ځان د فهم قابل او منسجم وښائي او په ژبه کې وښائي چې له انواع او اقسامو څخه کار اخلي.

**د لیکلو مهارت**

زده کوونکی به کولی شي چې ساده متن ولیکي چې له هدف او لاس ته راوړونکي سره تړاو ولري، تر ځو وکولی شي چې د روزمره ژوند په رسمی او غیر رسمی حالاتو کې، په ټولنیزو اړیکو، زده کړو او کاري ژوند کې اړیکه ونیسي. زده کوونکی به کولی شي چې له یو خاص روانوالي سره د اشنا موضوعاتو په اړه یو منسجم او د پوهیدو وړ، روایتي متنونه، تشریحي، توضیحي او استدلالي متونونه ولیکي. زده کوونکی به قصداً د متن جوړښت څه په دې ډول کوي چې په هغې کې به د بیلابیلو او مخصوصو جملاتو ساختار روښانه معلومیږي. زده کوونکی به کولی شي چې په مطمئنه توګه په خپل متن کې له پرمختللي ګرامر څخه کار واخلي.